ارسالی صوفیه عمر ٢٠١٢/٠٢/٠۶

# خلیل زاد : یو شیطان چې د خلکو په زړونو کې پسیړي
Khalilzad: A Satan Whispering in the Hearts of Men

**لیکوالان: ډاکټر محّمد داود میره کی او ډاکټر رحمت ربی زیرک یار**

«څوک چې د بلاګانو په ضد جنګیږي باید دیته یې پام وي چې په عملیه کې ورنه پخپله یوه بله بلا جوړه نشي.»- جرمن فیلسوف فریدریش نیچې ، ۱۸۴۴-۱۹۰۰

یو څو ورځې وړاندې زلمي خلیلزاد په کابل کې ځینې قومي مشران رابللي وو چې که په ۲۰۱۴ کې د ولسمشرۍ په انتخاباتو کې د خپلې نوماندۍ (نامزدۍ) لپاره ځان د هغوی په ژمنه ډاډمن کړي. د دې خبر په اوریدلو سره، موږ دواړه ناارامه او اریان شوو. موږ ځکه ناارام شوو چې خلیلزاد د افغانانو ژوند ته په سپکه سترګه کتلي دي او دغه شان نوموړي د هغو شرایطو په اسانتیا کې رول لوبولی دی چې افغانان پکې نښتي دي. خلیلزاد د اوسنۍ بدبختۍ په مهندسۍ کې برخه لرله. موږ اریان شوو چې دا سړی څومره سپین سترګی شودی او په دې پښیماني نه ښرګندوي چې په سیمه کې د واشنګټن د نړۍ والې فاجعې د مهندسانو مخکښ دی. ځکه خو موږ دې احساس ته مجبورشوو چې دا لنډه لیکنه وکاږو او له دې لارې په دې رڼا واچوو چې خلیلزاد څوک دی او د افغانستان لپاره یې څه کړي دي ځکه د هغه کړاندې (روش) افغاني وقار او اسلامي ارزښتونه نشي منعکسولی

خلیلزاد په سیمه کې د ویجاړتیا او د جنګونو له پلویتوب نه خپل شغل او ژوند جوړکړی دی. خلیلزاد د نویومحافظه کارانو په ډله کې و، د پاول ولفوویتـځ دحمایې لاندې و، او په امریکه د نوي محافظه کار خوځښتت د فلسفوي مفکر البرټ ُوهلشـتیـتر د لار ښودنې لاندې یې لوړ تحصیلات کړي دي. د دغه ډول حمایت او مربیت په برکت خلیلزاد د دې وړ وګرځید چې د امریکې د بهرنې سیاست په کړیوکې د نفوذ قلمرو ته ورننوځې. هغه د خپلې ډاکټرۍ علمي درجه (پي ایچډي) له شیکاګو پوهنتون نه په ۱۹۷۹ کې لاسته راوړه، د بین المللي اړیکیو په جرګه کې غړی شو، او د «نوې امریکایي پیړۍ په پروژه» کې یې کار وکړ. دغه پروژه په نوې محافظه کاره فلسفه راچاپیره وه چې په خپل وار سره یې له ۹۱۱ را وروسته نړۍ قالب ته اچولې ده. په ۱۹۹۸ کې خلیـلـزاد او نورو نـویـو محافظه کـارانو ولـسمـشر بیل کـلینټـن ته یو لاسلیک شوی لیک وړانـدې کړ چې د صدام حسـین لـرې کول پکې غـوښتـل شـوي وو. د دغه لیک الهام له هغه سیاسي تحلیل نه راوتلی و چې «کلـین بریک» ( بـشـپړ، بې عیب) نومیده. په دغه سند کې راغلي وو چې په منځني ختیځ کې دې رژیمونه د جنګ له لارې رانسکور شي. د جورج ډبلیو بوش د ولسمشرۍ په پیر کې ، خلیلزاد او د ده نوي محافظه کار یاران په عراق کې دجنګ پلویان وو،او د دوی دغه دریځ واقعاً په هغه لیک ولاړ و چې په ۱۹۹۸ کې یې ولسمشر بیل کلینټن ته استولی و. په عراق کې البته ښرګنده ده چې له یو میلیون نه زیاتو انسانانو خپل ژوند له لاس ورکړ، په میلیونونو معلول شول ، د خپلو خلکو وقـار یـې په خـطر کې ولـوید، او تاریخي ارزښـتمن شـیان یــې چـورشول

په لنډ ه وینا، خلیلزاد د دیک چیـنې مخکښ (اتباري)سړی و. د دیک چیـنې په سپارښتنه [چې د لومړي جورج ایچ بوش په مهال د دفاع وزیر و او دوهم جورج ډبلو بوش په پیر کې مرستال ولسمشرو] خلیل زاد په سپینه ماڼۍ کې د ملي امنیت په جرګه کې د کاندیلیسا رایس لاندې په کار ولګید. په سپینه ماڼۍ کې د دغې وظیفې په مهال ډیر احتمال لري چې خلیلزاد به پــه افغانستان باندې د امریکې د یرغل په پلان کولو کې مرسته کړې وي. دا د یادونې وړ ده چې په افغانستان باندې د امریکې د یرغل لپاره د خلیلزاد پلانونه به ، پــه اصطلاح پخپله د خلیلزاد له هغې لیکنې نه راوتلي وي چې سرلیک یې «سپینې پاڼې» و او خلیلزاد یې په ۱۹۹۸ کې مشر لیکوال و. سپینې پاڼې په واقعیت کې د هغه څه «تـورې پاڼــې» وې چې په افغانستان کې پیښ شول. د جنګ- زپـلي افغانستان د درملنې لپاره د خلیلزاد نسخه په واقعیت کې هلته د اوسنۍ سیاسي- ټولنیزې ټـول ناروغۍ (وبا) لامل شو

د خلــیلزاد سپینې پاڼــې په غټه کچه په افغان اقلیتونو، جنګسالارانو، نشه یات سالارانو، او د افغان حکومت په راتـلونکې څیـره را چاپیره شوې. لکه څنګه چې یې په خپلو سپـینو پاڼـو کې مخلـید(پیشبیني) انځور کړی و، خلیلزاد د افغــانستان لپاره یو کمزوری مرکزي حکومت پلان کړ د دې لپاره چې د افغانستان ګاونډیان پــرې خوښ کړي. بس له همدې امله، د افغانستان د بیلابیلو برخو پرمختیا د افغانستا ن نږدې ګاونډیانو او هـنـد ته وروسپارل


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

شوه. په عين ډول، د خليلزاد د عقيدې سره سم، هغو اشخاصو چې د بهرنيو هيوادونو سره يې نيغې اړيکې لرلې د کابل په نوي حکومت کې کرسيو ته ورسيدل او له دې لارې يې د سيمې هيوادونو ته لا زياته پيروي او تابعيت خلق کړل. د خليلزاد د چلن(برخورد، روش) منطق دا و چې افغانستان د خپلو ګاونډيانو په منځ کې د سياليو سبب شوی دی؛ نو ځکه بايد يو څه وشي چې دغه سيالۍ ارامې کړي. خو روغه پوهه (سليم عقل) حُکم کوي چې دغه ډول چلن (روش) به د بهرنيو قدرتونو سره د افغانستان په دننه کې د ډلو ژمنه (وفاداري) لا زياته وروزي. سر بيره پر دې، خليلزاد په نوي حکومتي نظام کې د ځايیزې (محلي) خودمختارۍ پلويتوب کړی دی. دا کار د جنګسالارانو لپاره صحنه برابروي چې د خپلو لاسته راوړنو د خوندي کولو لپاره په فدرالي نظام پسې ملا وتړي او د افغانستان د ويشنې لپاره کار وکړي. دا چې خليلزاد په افغانستام کې بهرني اغيز ته اسانتياوې برابرې کړې، د شمالي ټلوالې د جنايتکارو جنګسالارانو هدف ته يې لار پرانيستله چې د فدراليزم ياني د افغانستان د ويشنې د پيل په هڅه کې شي. د جنګسالارانو د تسکينولو او راضي کولو طريقه ( ميتود) به له يوه ممکن هدف ياني فساد او انحراف نه راوتلې وي. خليلزاد شايد دا سې نظر لاره چې د فساد او انحراف په غرض په فاسدو او منحرفو کړيوکې اغيز وکړي. خو که دغسې نه وي، ولې به يو منطقي انسان دغه ډول چلن (روش) تعقيب کړي چې په افغانستان کې داخلي بې ثباتي زياتوي. دا خو څه پټه خبره نه ده چې په افغانستان کې په بيليونونو ډالرې تريتم شوي دي. دا کار ناشونی و خو داچې له بهر نه د امريکې د حکومت مامورانو به پکې همکاري کړې وي

په لنډ ډول، خليلزاد د امپراتورانه زورزياتي او تسلط لپاره روزل شوی و. خليلزاد د امريکې په هره ماجرا کې لاس لاره چې د ترهه ګرۍ په ضد د جنګ په پلمه په سيمه کې د مسلمانانو په وژنه راڅرخيدله. خليلزاد معلوم لاسوندونه (سندونه) لاسليک کړي دي لکه په ۱۹۹۸ کې ولسمشر کلينټن ته د نويومحافظه کارانو ليک چې د صدام حسين د لرې کولو غوښتنه پکې خوندي شوې وه، او ورپسې دعراق جنګ. خليلزاد دغه شان د کرزي او د ده د شمالي ټلوالې دجنګسالار يارانو د کرغيړن (فاجعه يي) رژيم مهند س و. د خليلزاد سياسي پلانونه يقيناً د دې وړ دي چې شرير سياست ورته وويل شي. ځکه خو به د خليلزاد د سياست طرز له دينه ډير لرې نه وي چې د شيطان عمل وګڼل شي- هغه شيطان چې« دانسانانو په زړونو کې پسيږي».

د يوې شخصي ملاحظې په توګه،خليلزاد دوه ځامن لري: اليکساندر بينارد او مکسيميليان بينارد. د دواړو نومونه نه ښئ چې د افغانستان سره به کوم کلتوري يا ديني اړيکې ولري. زموږ پوښتنه داده چې خليلزاد په افغانستان کې د کومې مخينې (سابقې) يا نيک عملۍ په بنسټ پريکړه کړې ده چې په ۲۰۱۴ کې ځان د ولسمشرۍ لپاره نوماند (نامزد) کړي؟ ټول حقوق خوندي دي. ۴ فبروري ۲۰۱۲

پای


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ